NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE

# د افغانستان د ۲۰۱۴ کال ټاکنو په اړه وروستي مالومات

**د ۲۰۱۴ کال، د مارچ میاشتې ۱۴مه**
**۲۲ ورځې تر ټاکنو پورې**

ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ (**NDI**) د افغانستان د اپریل میاشتې د ۵ مې نېټې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو له ټاکنو څخه دمخه، په بهیر کې او وروسته یو شنونکی (تحلیلي) ماموریت په لاره اچوي. په دې ماموریت کې له ۱۰۰ څخه زیات نړیوال او کورني شنونکي او کتونکي د هېواد په کچه برخه اخلي.

## ولسمشریزې او د ولایتي شوراګانو ټاکنې – څه بدلون رامنځته شوی دی؟

د اپریل میاشتې په ۵ امه نېټه به په افغانستان کې د یوه نوي ولسمشر او ۴۵۸ تنو ولایتي شوراګانو د غړو لپاره ټاکنې ترسره شي. د طالبانو له راپرځولو څخه راهیسې، دا پنځمې ملي او همدارنګه یواځینۍ ولسمشریزې ټاکنې دي کومې چې په اساسي قانون کې د ټاکنو لپاره له ټاکل شوي مهالوېش سره سمې ترسره کیږي. له هغو ټاکنو څخه راهیسې کوم چې د طالبانو له دورې څخه وروسته په ۲۰۰۴ کال ترسره شوې، د پام وړ اداري بدلونونه رامنځته شوي دي. اړوندې ټاکنې د ټاکنو د تنظیم د ګډ دفتر (JEMB) لخوا چې د ملګرو ملتونو او افغانانو یو ګډ ماموریت او د ۲۰۰۵ کال ولسي جرګې له ټاکنو څخه یې هم څارنه وکړه، اداره کېدې. په ۲۰۰۹ کال کې، د ټاکنو یو خپلواک کمېسیون (IEC) په دې موخه رامنځته شو ترڅو له ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو له ټاکنو څخه څارنه وکړي. اړونده اداره/کمېسیون په بشپړه توګه د ولسمشر لخوا ټاکل شویو کمیشنرانو لخوا جوړه شوې وه. د ټاکنو اوسنی خپلواک کمېسیون له ۹ تنو کمیشنرانو څخه کوم چې د ولسمشر له لوري د ۲۷ تنو نوماندو له ډلې څخه چې د ملي شورا، سترې محکمې، د افغانستان د بشري حقونو د کمېسیون او مدني ټولنې له استازو څخه جوړې شوې کمېټې لخوا یې وړاندیز شوی وه، ټاکل شوي دي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون هم له یوې مؤقتې ادارې څخه چې موخه یې له تیرو ټاکنو څخه څارنه وه، په یوه تلپاتې او دایمي بنسټ بدل شوی دی.

### د ۲۰۰۴ کال ولسمشریزې ټاکنې

- په هېواد کې لومړنۍ مستقیمې ټاکنې وې( په ۱۹۶۵ او ۱۹۶۹ کلنو کې غیر مستقیمې پارلماني ټاکنې ترسره شوې وې)
- ۵,۱۰ میلیونه د رأیې اچوونې کارتونه وېشل شوي وو. له ټاکلي حد څخه زیاته نوم لیکنه په بېلابېلو برخو کې ترسره شوې وه او ځینو کسانو د رأیې اچوونې ګڼ شمېر کارتونه لرل.
- ۱۸ تنه نوماندي وو چې په کې د یوې ښځې نوم د رأیې اچوونې په پاڼه کې وه.
- ۱,۸ میلیونه رأیه ورکوونکي (د وېشل شویو کارتونو د شمېر شاوخوا ۷۷ سلنه) شمېرل شوي وو.
- حامد کرزی چې وروسته بیا په کال ۲۰۰۲ کې د لویې جرګې لخوا د افغانستان د انتقالي ادارې د رئیس په توګه وټاکل شو، له ۵۰ سلنې څخه ډېرې رأیې خپلې کړې. دوهم ځل ټاکنو ته اړتیا ونه لیدل شوه.

### د ۲۰۰۹ کال ولسمشریزې ټاکنې

- د رأیه ورکوونکو د نوم لیکنې لړۍ د تجدیدولو په ترڅ کې، له ۴ میلیونو څخه ډېرو کسانو د رأیې اچوونې کارتونه ترلاسه کړل. چې په پایله کې د رأیې اچوونې د کارتونو ټولټال شمېر له ۱۵ میلیونو څخه واوښت.
- ۴۱ تنه نوماندي وو چې په کې د دوه تنو ښځو نومونه د رأیې چوونې په پاڼه کې وو.
- لومړنیو پایلو وښوده چې کرزي ۶,۵۴ سلنه او داکتر عبدالله عبدالله ۸,۲۷ سلنه رأیې خپلې کړې دي. د ټاکنیزو شکایتونو او تورونو په پایله کې پلټنه او دوهم ځل شمېرنه ترسره شوه. د ۶,۴ میلیونه د اعتبار وړ رأیو پر بنسټ وروستیو پایلو، د کرزي برخه له ۵۰ سلنې څخه راټیټه شوه او اړتیا وه ترڅو د کرزي او عبدالله ترمنځ دوهم ځل ټاکنې په لاره واچول شي.
- د دوهم ځل ټاکنو له په لاره اچوولو څخه څو ورځې وړاندې، عبدالله اعلان وکړ چې په دوهم ځل ټاکنو کې برخه نه اخلي. له دې اعلان څخه وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون کرزی د ۲۰۰۹ کال ټاکنو ګټونکی اعلان کړ.

### د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزې ټاکنې

- په اساسي قانون کې د ټاکل شویو محدودیتونو له امله، حامد کرزی نشي کولای چې ځان نوماند کړي.
- نوماندي اړ دي ترڅو ۱ میلیون افغانۍ د ضمانت په توګه وسپاري، چې د دې پیسو اندازه د ۵,۲ میلیونو پرتله چې نوماندو باید په کال ۲۰۰۹ کې سپارلې وای، کمه ده.
- د رأیې اچوونې په پاڼه کې ۱۱ تنه نارینه نوماندې دي.
- د رأیه ورکوونکو د نوم لیکنې د روانې لړۍ په ترڅ کې تر اوسه پورې ۶,۳ میلیونه اضافي کسانو نوم لیکنه کړې ده. د نوم لیکنې لړۍ به د مارچ میاشتې تر ۲۲ مې نېټې پورې دوام وکړي، کېدای شي د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اړتیا په صورت کې، اړونده لړۍ وغځوي.

### د ۲۰۰۵ کال د ولایتي شوراګانو ټاکنې

- د رأیه ورکوونکو د نوم لیکنې لړۍ د تجدیدولو په پایله کې، ۷,۱ میلیونه نوي کارتونه ووېشل شول.
- ټاکنې له اوړي څخه د سپټامبر میاشتې ته وځنډول شوې.
- د ولایتي شوراګانو لپاره ۳۰۲۵ تنه نوماندي وو.
- لږ تر لږه د ۴۲۰ کرسیو ۲۵ سلنه د ښځو لیاره جلا شوې وه. په دریو ولایتونو کافي شمېر ښځو په سیالیو کې ګډون ونه کړ ترڅو ورته جلا شوې کرسۍ ډکې کړي.
- نوماندو باید لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر درلوداې؛ د سواد یا زده کړې لپاره حداقل معیار نه وه ټاکل شوی.
- ۴,۶ میلیونه رأیې وشمېرل شوې.

### د ۲۰۰۹ کال د ولایتي شوراګانو ټاکنې

- د ولایتي شوراګانو لپاره ۳۱۹۶ تنه نوماندي وو.
- لږ تر لږه د ۴۲۰ کرسیو ۲۵ سلنه د ښځو لپاره جلا شوې وه. په دوه ولایتونو کافي شمېر ښځو په سیالیو کې ګډون ونه کړ ترڅو ورته جلا شوې کرسۍ ډکې کړي.
- نوماندو باید لږ تر لږه ۱۸ کاله عمر درلوداې؛ د سواد یا زده کړې لپاره حداقل معیار نه وه ټاکل شوی.

### د ۲۰۱۴ کال د ولایتي شوراګانو ټاکنې

- د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د نوماندو په وروستي لیست کې، ۲۷۱۳ تنو نوماندو شتون لري.
- لږ تر لږه د ۴۵۸ کرسیو ۲۰ سلنه د ښځو لپاره جلا شوې ده. اوس مهال، په ټولو ولایتونو کې کافي شمېر نوماندې شتون لري ترڅو ورته ټاکل شوې سهمیه پوره کړي.
- نوماندي باید لږ تر لږه ۲۵ کاله عمر ولري او دولسم ټولګی یې بشپړ کړی وي ( له لېسې څخه فارغ شوی وي).
- د ټاکنو د مهالوېش پر بنسټ، دا ټاکنې باید په ۲۰۱۳ کال کې ترسره شوې وای. خو دا ټاکنې د لوجستیکي ننګوونو او مالي مسایلو له امله تر د ۲۰۱۴ کاله پورې وځنډول شوې.

## نویو قوانینو، ښځینه نوماندې له ننګوونو سره مخ کړې دي



*په کابل کې د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ په دفتر کې د ولایتي شوراګانو ښځینه نوماندې د ناستې پر مهال*

سره له دې چې د افغانستان اساسي قانون د ښځو لپاره د یو شان حقونو درلودل تضمینوي او ګڼ شمېر نوماندو د ښځو له سیاسي ګډون څخه ملاتړ وښود، خو نویو مقرراتو او مخ پر خرابېدو امنیتي وضعیت د هېواد په سیاسي ژوندانه کې د ښځو ونډه لا نوره هم محدوده کړې ده.

په داسې حال کې چې د ۲۰۰۵، ۲۰۰۹ او ۲۰۱۴ کلنو د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د سیالۍ کوونکو ښځو شمېر د هلو ځلو په ترڅ د ټولو نوماندو ۱۰ سلنه جوړوي، د ولایتي شوراګانو د ښځینه غړو لپاره د جلا شویو کرسیو شمېر راکم شوی دی.

پخوا، د ولایتي شوراګانو ۲۵ سلنه کرسۍ د ښځو لپاره جلا شوې وې، خو د ټاکنو قانون چې د ۲۰۱۳ کال، جولای په میاشت کې تصویب شو، دا سلنه ۲۰ ته راټیټه کړه.

سربېره پر دې ښځنیه نوماندې په نا انډولیزه توګه له هغه ټاکل شوي شرط څخه کوم چې دولسم ټولګي (= له لېسې) څخه فراغت دی، اغېرمنې شوې دي. دا ټاکل شوی شرط په ځانګړې توګه ښځې اغېزمنوي، دا ځکه چې ښځې د نارینه وو پرتله زده کړو ته کم لاسرسی لري. د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت د مالوماتو له مخې، د نارینه وو پرتله چې ۵۰ سلنه دي، یواځې ۱۸ سلنه ښځې سواد لري.

هغو ښځینه نوماندو، چې د سږکال ټاکنیزو سیالیو د مودې په درشل کې سروې شوې دي، ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ ته وویل چې د بودجې نشتوالی او ناامنې د دوي پر وړاندې ستري ننګوونې وې.

د رأیه ورکوونکو د نوم لیکنې د روانې لړۍ پورې اړوند پرمختګونه دا په ګوته کوي په لږو ناامنه سیمو کې ښځې لږ احتمال ځي چې د رأیې اچوونې کارتونه ترلاسه کړي. په څه نا څه باامنه ولایتونو لکه بدخشان، بلخ او دایکندي کې د هغو ښځو سلنه کوم چې د رأیې ورکولو لپاره یې نوم لیکنه کړې ده، په ترتیب سره ۴۱، ۳۸ او ۴۸ ده. د هلمند او ارزګان په لږو ناامنه ولایتونو کې، د نویو ثبت شویو رأیه ورکوونکو یواځې ۹ سلنه ښځې دي. په زابل ولایت کې، د ثبت شویو رأیه ورکوونکو یواځې ۴ سلنه ښځې دي.

د ۲۰۱۳ کال د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون د جوړښت د قانون پر بنسټ، د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د ۹ تنو کمیشنرانو څخه له ډلې څخه ۲ تنه او ټاکنیزو

شکایتونو د خپلواک کمېسیون د ۵ تنو کمیشنرانو له ډلې څخه ۱ تنه باید ښځینه وي. دې قانون مرسته وکړه ترڅو د اړوندو بنسټونو/کمېسیونونو په رهبرۍ کې د ښځو له شتون څخه ډاډ ترلاسه شي. سره له دې هم داړو کمېسیونونو د هېواد په کچه د خپلو ښځینه کارکوونکو د ګومارنې لپاره د ټاکل شویو هدفونو په ترلاسه کولو کې ستونزې لرلې.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون توانېدلی ترڅو د ولسوالۍ په کچه د سیمه ایزو همغږو کوونکو (DFC) په توګه د ۳۲۰۰ تنو ښځو له ډلې څخه د هغوی ۲۱ سلنه وګوماري. که څه هم دا سلنه د تېرو ټاکنو پرتله لږ څه اوچته ولې د ټاکل شوي هدف پرتله چې ۵۰ سلنه ده، د پام وړ کموالی په ګوته کوي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون همدارنګه په دې لټه کې وه ترڅو د ښځو په ګومارلو سره د خپلو ۱۴۲۸ تنو د عامه او رأیه ورکوونکو د پوهاوي د مبلغینو نیمایي استخدام کړي، خو یواځې یې وشو کولای چې د ۳۳ سلنې په ګومارلو بریالی شي، اړوندې شمېرې له ۴۰ څخه تر ۵۰ سلنو پورې په شمالي او لویدیځو ولایتونو او له ۸ څخه تر ۱۹ سلنو پورې په سویلي او ختځیو ولایتونو کې توپیر درلود.

د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون موخه د خپلو کارکوونکو په توګه د ۳۰ سلنه ښځو ګومارل وو، تر دې مهاله، اړوند کمېسیون ۱۰ سلنه ښځو په ګومارلو بریالی شوی. د خپلو ولایتي ښځینه کمېشنرانو د ګومارلو په برخه کې د مرستې په موخه، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون د ګومارنې لپاره هغه ټاکل شوی شرط چې پر بنسټ یې کمېشنران له خپلو اړوندو ولایتونو څخه بهر په دندو ګومارل کیږي، آسانه کړی دی. د ۱۰۲ تنو ولایتي کمېشنرانو له ډلې څخه چې لوړه یې کړې ده، یواځې ۶ تنه یې ښځینه دي.

د کورنیو چارو وزارت پلان لري ترڅو ۱۳۰۰۰ تنه ښځینه پلټونکې وګوماري ترڅو ښځینه رأیه ورکوونکې د رأیې اچوونې مرکز ته له ننوتلو دمخه وپلټي/تلاشي کړي. په ۲۰۱۰ کال کې، دې وزارت پلان درلود ترڅو ۱۰۵۰۰ تنه ښځینه پلټونکې وګوماري، خو د ټاکنې د ورځې په رارسېدو سره، یواځې د ۴۷۵۰ تنو په ګومارنه بریالی شو.




*په ۲۰۱۳ کال کې تصویب شوي د ټاکنو قانون په ولایتي شوراګانو کې د ښځو لپاره جلا شویو کرسیو شمېر راکم کړ.*

# د پام وړ مسئلې: د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون



*( په منځ کې) د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون ویاند نادر محسني په کابل کې د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ په دفتر کې، له ټاکنو څخه د کتنې ماموریت غړو ته د مالوماتو د وړاندې کولو پر مهال*

د ۲۰۱۳ کال د ټاکنو د خپلواک کمېسیون/تاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون د جوړښت قانون، د یوې تلپاتې او خپلواکې ادارې په توګه د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون جوړولو ته اجازه ورکړې ده. پخوا، دا کمېسیون له ټاکنو څخه ۱۲۰ ورځې وړاندې رامنځته او د ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان څخه لنډه موده وروسته، منحل کېده.
له څنګه چې د کورنیو او نړیوالو ډلو لخوا کوم چې د افغانستان له تېرو ټاکنو څخه یې څارنه کړې ده، ذکر شوې ده، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د دې لپاره چې یوه تلپاتې اداره یا بنسټ نه وو، له ستونزو او خنډونو سره مخامخ شوی دی – ډېری وخت اړوند کمېسیون په کافي اندازه وخت نه درلود ترڅو د خپلو ولایتي فعالیتونه یا کړنې لپاره تیاری ونیسي او په اغېزناکه توګه عامه پوهاوی پرمخ بوځي او ونه توانېد ترڅو اداري پوهه ټینګه او خوندي کړي. د یوې تلپاتې اداري یا بنسټ په توګه د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون په اړه پرېکړه هغه پرمختګ وه چې ورڅخه هرکلی وشو.
د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون ویاند نادر محسنی وویل چې نوموړی باوري دی چې کمېسیون به وتوانیږي ترڅو خپلې دندې ترسره کړي، که څه هم نوموړي په ګوته کړه چې اړوندې ادارې ته په پام کې نیول شوې کمې سرچینې او امکانات د دې لامل شول چې دا کمېسیون ناوخته پیل وکړي. د بېلګې په توګه، کمېسیون په دې هڅه کې دی ترڅو خپل ولایتي دفترونه تنظیم کړي او همدارنګه څلور میاشتې کیږي چې د دې کمېسیون کارکوونکو خپل

معاشونه نه دې اخيستي. نوموړي زياته کړه "موږ له صفر څخه پيل وکړ".

اوس مهال د دې کمېسيون دفترونه په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د هغو کانټېنرونو په کارولو سره کوم چې د (UNOPS) لخوا برابر شوي، تنظيم او چمتو دي. د ۳۴ ولايتونو له ډلې څخه په ۳۰ ولايتونو کې، د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون دفترونه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له دفترونو سره په عينې موقعيت کې شتون لري چې دې کار په خپلواکه توګه د دواړو کمېسيونو لخوا د دندو پرمخ بېولو په اړه اندېښنې راپورته کړې دي.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ۹۸ تنه ولايتي کمېشنران اکثره ولايتونو ته استولي دي ( د هر ولايت په کچه درې تنه)، خو دا کمېسيون اړ دی ترڅو څلور تنه نوي کمېشنران وګوماري دا ځکه چې دريو تنو استعفا ورکړې او يو تن هم لرې کړل شوی دی. سربېره پر دې، د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د مارچ مياشتې له ۹ څخه تر ۱۱ نېټې پورې د ولايتي دفترونو د نورو اضافي کارکوونکو لپاره په کابل کې روزنيز پروګرام په لاره واچوه. دا کارکوونکي په خپلې دندې له مهالوېش سره سم راتلونکې اونۍ پيل کړي.

د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون چارواکو د نوماندۍ پر شرايطو باندې د برابرۍ پورې اړوند له ۱۵۰۰ څخه زيات اعتراضونه طی مراحل کړي دي، وروسته له هغه چې پر شرايطو باندې د هغوی برابروالی تصديق شو، ځينې نوماندي چې په لومړني ليست کې يې نومونه نه وو، د ټاکنيزو سياليو د دورې له پيل څخه وړاندې يې نومونه په ليست کې ورګډ شول. د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون چارواکي به د ټاکنيزو سياليو د ټولې مودې په بهير کې، په شرايطو باندې د نوماندو د برابروالي څېړلو ته دوام ورکړي.

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون له وړاندې اعلان وکړ چې لږ تر لږه ۸۹ تنه د ولايتی شوراګانو نوماندي يې د عمر او يا تحصيلي شرايطو د نه درلودو په خاطر رد کړي دي. نه د ټاکنو خپلواک کمېسيون او نه هم د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د رد شويو نوماندو نومونه، د هغوی ولايتونه او يا جنسيت، او يا د هغوی ردولو علت خلکو ته وړاندې کړ. د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون اعلان چې ګواکي دا کمېسيون به د ټاکنو تر ورځې پورې د نوماندو ردولو ته دوام وکړي، دا اندېښنې را اوچته کړې دي چې ښايي رأيه ورکوونکې د خپلو رأيو له کارولو څخه وړاندې، له دا ډول ردولو څخه بې خبره پاتې شي.

تر دې مهاله، د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د ټاکنيزو سياليو د ټيمونو لخوا د دولتي موټرونو د کارولو په ګډون د پېښو په اړه پرېکړې کړي او نقدي جريمې يې وضع کړې دي.

## لنډ وروستي مالومات

- **طالبانو** بيانيې خپرې کړې دي چې قصد لري ترڅو د اپرېل مياشتې ټاکنې ګډوډې کړي او افغانانو ته يې ګواښ کړی چې په ټاکنو کې ګډون ونه کړي.
- د **ګلبدين حکمتيار** په مشرۍ د حزب اسلامي ګوند، له اوږدې مودې راهيسې د دې ګوند له غړي او ولسمشريزو ټاکنو ته نوماند **قطب الدين هلال** څخه ملاتړ وکړ. د دې ګوند بلې ډلې، د ولسمشريزو ټاکنو په يوه بله ډله/ټيکټ کې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره مرستيال نوماند وړاندې کړل دی.
- لږ تر لږه د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ۸ تنه د کمپاين/ټاکنيزو سياليو غړي د ټاکنيزو سياليو د دورې له پيل څخه راپدېخوا، وژل شوي دي. همدارنګه د ټاکنيزو سياليو د کارکوونکو تښتوونه او د ټاکنيزو سياليو پر دفترونو او کتارونو باندې بريدونه هم تر سترګو شوي دي.
- د تښتوونې، په بغلان، بلخ، فارياب، کاپيسا او ننګرهار ولايتونو کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پر کارکوونکو باندې د بريدونو په ګډون، لږ تر لږه ۵ امنيتي پېښو شتون درلود.
- د ولسمشر کرزي ورور **قيوم کرزی** د مارچ په ۶ امه له ولسمشريزو سياليو پر شاه او خپل ملاتړ يې د بهرنيو چارو له پخواني وزير **زلمي رسول** څخه اعلان کړ.
- د ولسمشر مرستيال **محمد قسيم فهيم**، د شمالي ټلوالي او د جمعيت اسلامي ګوند کليدي مشر، د ورپېښې ناروغۍ له امله د مارچ مياشتې په ۹ امه نېټه ومړ.